AFGHAN GERMAN ONLINE
افغان جرمن آنلاین
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
مسؤولیت محتوی، استعمال کلمات و جملات بدوش نویسندهٔ مطلب میباشد

آصف بهاند
۲۰۱۷/۰۶/۱۵

# گل ژبې بندې دي نور

زما د مچکو شیرام

ستا د اورېدو بنو ورونه خلاص کړل

زما د شګلن ذهن له لويې دښتې

د نا ويلو هيلو

يو څو سر کش ماشومان

د څه ويلو په نيت

په منډه، منډه راغلل



خو،

زما د ستوني لوی دهليز کې څه غوغا جوړه وه

ماشومو هيلو

د ماشومو هيلو

خوله پرانستلې نه وه

چې د لغاتو ځوانيمرګې دلې

سر په لاسونو واهه

دا يې ويل:

ګل ځانګې ماتې دي نور

ګل ژبې بندې دي نور

۲۰۰۳/۰۲/۲۵
هيدرسليف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ